# د حضرت ملاکی نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

خُدائ پاک به وفادار وی باوجود د دې کۀ د هغۀ خلق وفا هم ونۀ کړی. خُدائ پاک خپله وعده ساتی خو په بدل کښې د خپلو منونکو نه د تابعدارئ توقع ساتی. خُدائ پاک بنی اِسرائيل ملامته کړل ځکه چې د هغوئ ايمان کمزورے وو او دا خيال يې کولو چې اوس به خُدائ پاک خپل لوظ پوره کړی. هغوئ د خُدائ پاک نه لری شول خو بيا يې هم د برکت اميد ساتلو. خُدائ پاک اِنصاف له اهميت ورکوی. هغه به نافرمانئ له سزا ورکړی او بدعمله به تباه کړی. د ملاکی په کِتاب کښې خُدائ پاک خبردارے ورکوی چې د مالِک خُدائ ورځ راروانه ده کله به چې لوئ حساب کِتاب رامخې ته شی. توبې او بدلون سره بحالی راځی. خُدائ پاک هميشه خپلو خلقو ته په واپس راتلو هرکلے وائی. د خُدائ پاک لوئ خواهش دا وی چې هغوئ له برکت ورکړی ځوک چې د هغۀ لارې ته راواپس شی. اګر چې د حضرت حجی او حضرت زکرياه د وينا په اثر کښې هغوئ د خُدائ پاک کور جوړول مکمل کړل خو څنګه چې د ډېرو خلقو تمنا وه هغه شان د مسيح راتګ ونۀ شو. چې کله حضرت زکرياه د توبې دعوت ورکولو نو په شروع کښې د هغۀ جوش او جذبه ډېره زياته وه خو وروستو دا سړه شوه نو ځکه خُدائ پاک د خپل لوظ برکتونه بحال نۀ کړل. لږ وخت وروستو حضرت ملاکی دا پېغام راوړو او خلقو ته يې د توبې دعوت ورکړو او ورته يې وفرمائيل چې، اِمامت، چې اوس لالچی شوے دے، عبادت چې اوس ترې دُنياوی کاروبار جوړ شوے دے، طلاق چې اوس عام شوے دے، عام اولسی اِنصاف چې اوس نظرانداز کيږی، او لسمه حِصه، چې اوس نۀ ورکولے کيږی. "ولې يو سړے د خُدائ پاک نه غلا کولے شی څۀ؟" خُدائ پاک د حضرت ملاکی په وسيله دا تپوس وکړو، او وعده يې وکړه چې زۀ به درته "د آسمان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دروازې خلاصې کړم.“ دا لوظ هغوئ سره دے څوک چې خپله لسمه حِصه ورکوی.
حضرت ملاکی د حضرت یحییٰ بپتسمه ورکونکی او عیسیٰ مسیح دواړو د راتلو په حقله
پېشګوئي وکړه او وی فرمائيل چې دواړه به د خُدائ پاک پېغام راوړونکی وی. د ملاکی
کِتاب د زړې عهد نامې آخری کِتاب دے. ملاکی د مسیح د راتلو او د هغۀ د عدل او
اِنصاف بادشاهئ په حقله په واضحه توګه پېشګویانې کړې دی. څلور سوه او شل کاله
وروسته به دا ټولې پېشګویانې د اِنجیل شریف په وویشتم کِتاب کښې سر ته ورسیږی. د
حفظ کولو دپاره ۴:۲ آیت ”څوک چې زما د نوم عزت کوی، صداقت او شفا به لکه د
نمر په تاسو وځلیږی.“

١ (١) دا هغه پېغام دے کوم چې مالِک خُدائ د ملاکی په وسیله بنی اِسرائیلو له
ورکړو.

## یعقوب سره مینه، د عِیسو رد کول

(٢) ”ما تاسو سره مینه کړې ده،“ مالِک خُدائ فرمائی. ”خو تاسو تپوس کوئ چې، تا
مونږ سره څنګه مینه کړې ده؟“ مالِک خُدائ په جواب کښې وفرمائيل، ”آیا عِیسو د
یعقوب ورور نۀ وو څۀ؟ بیا هم ما یعقوب سره مینه وکړه، (٣) خو عِیسو یعنې د
ادومیانو پلار نیکۀ ما رد کړو، او ما د هغوئ غرونه شاړ کړل او د هغوئ میراث مې د
بیابان ګیدړانو ته پرېښودلو.“ (۴) ادومیان وائی چې، ”اګر کۀ مونږ تباه کړے شوی یُو،
خو مونږ به دا کنډرې بیا جوړې کړُو.“ خو مالِک خُدائ ربُ الافواج دا فرمائی چې،
”هغوئ دا جوړولے شی، خو زۀ به یې تباه کړم. دې ته به د بدعملئ مُلک وئيلے کیږی،
او خلق به یې همېشه د خُدائ پاک د لعنت لاندې وی. (۵) کله چې تاسو دا تباهی په
خپلو سترګو وګورئ نو وبه وایئ چې، مالِک خُدائ د اِسرائیل د سرحدونو نه بهر هم
خپله لوئی ښکاره کوی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## بې‌اهمیته قربانیانې

۶ مالِک خُدائ ربُ الافواج اِمامانو ته فرمائی چې، ”یو زوئ د خپل پلار عزت کوی،
او نوکر د خپل مالِک. کهٔ چرې زهٔ پلار یم، نو زما هغه عزت چرته دے؟ کهٔ چرې زهٔ
مالِک یم، نو زما هغه احترام چرته دے؟ اے اِمامانو، خو دا تاسو یئ چې زما د نوم
سپکاوے کوئ. خو تاسو تپوس کوئ چې، مونږ څنګه ستا د نوم سپکاوے کړے دے؟
۷ تاسو زما په قربان‌ګاه ناپاکه خوراک کېښودو. او بیا هم تاسو تپوس کوئ چې تهٔ
مونږ په څهٔ ناپاک کړے یې؟ په دې چې تاسو ووئیل چې د مالِک خُدائ قربان‌ګاه ناپاکه
ده زما د قربان ګاه سپکاوے مو وکړو. ۸ کله چې تاسو ړاندهٔ څاروی د قربانۍ دپاره
راولئ، آیا دا غلط کار نهٔ دے؟ کله چې تاسو ګوډ یا بیمار څاروی قربانی کوئ، آیا دا
غلط کار نهٔ دے څهٔ؟ کهٔ تاسو دا کوشش وکړئ چې دا خپل حکمران ته پېش کړئ، آیا
هغه به تاسو نه خوشحاله شی څهٔ؟ آیا هغه به تاسو قبول کړی؟“ مالِک خُدائ ربُ
الافواج فرمائی. ۹ ”اوس خُدائ پاک ته سوال زاری کوئ چې په مونږ مهربان شی.
ستاسو نه په داسې قربانۍ پېش کولو، آیا هغه به تاسو قبول کړی؟“ مالِک خُدائ ربُ
الافواج فرمائی. ۱۰ ”اے کاش چې په تاسو کښې یو کس د عبادتخانې دروازې بندې
کړی، نو چې تاسو نور بې‌فائدې اور زما په قربان‌ګاه بل نهٔ کړئ. زهٔ تاسو نه خوشحاله
نهٔ یم،“ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی، ”او زهٔ به ستاسو د لاسونو نه نذرانې قبولې نهٔ
کړم. ۱۱ زما نوم به د قومونو په مینځ کښې عظیم وی، د نمر راختو نه تر نمر پرېوتو
پورې. په هر ځائ کښې به خوشبودارې او پاکې نذرانې ما ته راوړے شی، ځکه چې زما
نوم به د قومونو په مینځ کښې عظیم وی،“ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. ۱۲ ”خو
تاسو زما د نوم بې‌حرمتی کوئ په دې وئیلو سره چې د مالِک خُدائ قربان‌ګاه ناپاکه ده،
او د دې خوراک بې‌اهمیته دے. ۱۳ او تاسو وایئ چې، دا څومره بوج دے. او پوکی
وهئ او د دې نه نفرت کوئ،“ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. ”کله چې تاسو د غلا،
ګوډ یا بیمار څاروی راولئ او د قربانۍ په طور یې پېش کړئ، آیا زهٔ دا ستاسو د لاسونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه قبول کړم څۀ؟" مالِک خُدائ فرمائی. ١٤ "لعنت دې وی په هغه دوکه باز باندې چې
په رمه کښې یې څُرب نر څاروے وی او نذرونه یې منلې وی، خو مالِک ته مات ګوډ
څاروے قربانی کړی." نو مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی چې، "زۀ لوئ بادشاه یم، او
په قومونو کښې خلق زما د نوم نه یریږی."

## حکم د اِمامانو دپاره

٢ ١ "ګورئ اوس دا حکم ستاسو دپاره دے، اے اِمامانو. ٢ کۀ تاسو غوږ نۀ
نیسئ، او کۀ تاسو د خپل زړۀ نه زما د نوم احترام نۀ کوئ،" مالِک خُدائ ربُ الافواج
فرمائی، "زۀ به په تاسو لعنت نازل کړم، او زۀ به ستاسو نعمتونه لعنتی کړم. په اصل
کښې ما هغوئ د اول نه لعنتی کړی دی، ځکه چې تاسو د خپل زړۀ نه زما احترام ونۀ
کړو. ٣ ستاسو په وجه به زۀ ستاسو اولاد ورټم، زۀ به ستاسو په مخونو ستاسو د
اختر د قربانو ګند واچوم، او تاسو به دې سره بهر وغورزولے شئ. ٤ او تاسو به
پوهه شئ چې ما تاسو ته دا حکم درلیږلے دے چې زما لوظ به د لیویانو سره جاری
وی،" مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. ٥ "زما لوظ هغوئ سره وو، د ژوند او امن
لوظ، او ما دا هغوئ ته ورکړو چې زما تعظیم وکړی، او هغوئ زما عزت وکړو او زما د
نوم د دهشت نه ویریدل. ٦ رښتینے شریعت د هغوئ په خولۀ کښې وو او هیڅ دروغ
د هغوئ په شونډو نۀ وو. هغوئ ما سره په امن او صداقت روان ؤو، او ډیر یې د ګناه نه
واړول. ٧ د اِمام د خولې دا فرض دی چې صحیح تعلیم خوندی کړی، او د هغۀ د خولې
نه دې خلق د شریعت لټون وکړی، ځکه چې هغه د مالِک خُدائ ربُ الافواج پیغام
رسوونکے دے. ٨ خو تاسو اِمامان د خپلې صحیح لارې نه واوړیدئ او ستاسو د
شریعت په وجه ډیرو تیندک خوړلے دے. د لیویانو سره زما شوے لوظ تا مات کړو،"
مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. ٩ "نو په دې وجه ما تۀ د ټولو خلقو په وړاندې
سپک او عاجز کړې، ځکه چې تا زما په طریقو عمل ونۀ کړو خو د شریعت په مسئلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې دې طرفداری وکړه.“

## د يهوداه بې‌ايمانی

۱۰ آيا زمونږ ټولو پلار يو نۀ دے؟ آيا يو خُدائ پاک مونږ جوړ کړی نۀ يُو؟ مونږ بيا ولې
په خپلو کښې د يو بل سره په بې‌وفائی کولو د خپل پلار نيکۀ د لوظ بې‌احترامی کوُو؟ ۱۱
يهوداه بې‌ايمانی وکړه. يو حرام عمل يې په اِسرائيل يعنې يروشلم کښې کړے وو، د هغه
پاک کور چې مالِک خُدائ ورسره مينه کوله د هغه ښځو سره په وادۀ کولو چې بُت
پرسته وې، يهوداه بې‌احترامی وکړه. ۱۲ د هغه سړی دپاره چې څوک داسې کوی، چې
هغه څوک هم وی، مالِک خُدائ دې هغه د بنی اِسرائيلو د قوم نه وشړی. کۀ هغه مالِک
خُدائ ربُ الافواج ته نذرانې هم راوړی. ۱۳ يو بل کار تاسو وکړئ، تاسو د مالِک خُدائ
قربان‌ګاه په اوښکو ډکه کړئ. تاسو وژاړئ او زاری وکړئ ځکه چې نور هغه نۀ ستاسو
نذرانو ته ګوری او نۀ يې ستاسو د لاسونو نۀ په خوشحالئ سره قبلوی. ۱۴ تاسو تپوس
کوئ چې، ”ولې؟“ دا ځکه چې مالِک خُدائ ستا او ستا د ځوانئ د ښځې په مينځ کښې
ګواه دے، ځکه چې تا د هغې سره ټګی وکړه، اګر کۀ هغه ستا په ژوند کښې شريکه ده،
او تا هغې سره نِکاح کړې ده. ۱۵ آيا مالِک خُدائ تاسو دواړه يو نۀ کړئ؟ تاسو په زړۀ
او ځان د هغۀ يئ. او خُدائ د دې نه څۀ غواړی؟ ځکه چې هغه نيک اولاد غواړی. نو د
خپل زړۀ خيال ساته، او خپلې د ځوانئ د ښځې سره ټګی مۀ کوه. ۱۶ ”زۀ طلاق نه
نفرت کوم،“ د بنی اِسرائيلو مالِک خُدائ فرمائی، ”او زۀ د هغه سړی نه نفرت کوم چا
چې د ظلم جامې اغوستې وی،“ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. ”نو د خپل زړۀ خيال
ساتئ، او ټګی مۀ کوئ.“

## د عدالت ورځ

۱۷ تاسو مالِک خُدائ په خپلو خبرو ستړے کړو. ”مونږ هغه څنګه ستړے کړو؟“ تاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تپوس کوئ. په دې وئیلو سره چې، "ټول بد کوونکی د مالِک خُدائ په نظر کښې ښۀ دی
او هغه د هغوئ نه رضا دے،" یا "اِنصاف کوونکے خُدائ پاک چرته دے؟"

٣ (١) "ګوره، زۀ خپل پېغمبر ستا نه وړاندې لېږم چې ستا مخې ته لاره تياره کړی. بيا
به ناڅاپه هغه مالِک چې تاسو يې لټون کوئ خپل کور ته راشی، هغه د لوظ پيغام
راوړونکے به راشی د چا چې تاسو ليواله يئ،" مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. (٢)
خو د هغۀ د راتلو ورځ څوک برداشت کولے شی؟ څوک ودرېدلے شی کله چې هغه
راښکاره شی؟ ځکه چې هغه به لکه د صفا کوونکی اور يا د دهوبی د صابون په شان
وی. (٣) هغه به لکه د سپينو زرو د صفا کوونکی او خالص کوونکی په شان کښېنی،
هغه به ليويان صفا کړی او د سرو او سپينو زرو په شان به يې چاڼ کړی. بيا به دوئ
صادقان شی چې مالِک خُدائ ته به نذرانې پېش کولے شی، (٤) او د يهوداه او يروشلم
نذرانې به مالِک خُدائ ته د قبلولو وی، داسې لکه چې په تېرو ورځو، او په تېر شوو
کالونو کښې وې. (٥) "نو زۀ به تاسو له د عدالت دپاره نزدې درشم. زر به زۀ د
جادوګرو، زناکارو او چې په دروغو قسم خوری د هغوئ خلاف ګواهی ورکړم، د هغوئ
خلاف چې د مزدورانو سره په مزدورئ کښې ټګی کوی، څوک چې په کونډو او يتيمانانو
ظلم کوی، او مسافر د اِنصاف نه محروموی خو زما نه نۀ يرېږی،" مالِک خُدائ ربُ
الافواج فرمائی.

## د خُدائ پاک نه غلا کول

(٦) "زۀ نۀ بدلېدونکے مالِک خُدائ يم. نو ځکه تاسو، اے د يعقوب اولاده، تباه نۀ
شوئ. (٧) ستاسو د پلار نيکونو د وخت نه تاسو زما د احکامو نه اوړېدلې يئ او عمل
مو پرې نۀ دے کړے. ما ته راوګرځئ، او زۀ به تاسو ته راوګرځم،" مالِک خُدائ ربُ
الافواج فرمائی. "خو تاسو تپوس کوئ، مونږ څنګه راوګرځُو؟ (٨) خو زۀ وايم چې، ولې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یو سړے د خُدائ پاک نه غلا کولے شی څۀ؟ خو باوجود د دې تاسو زما نه غلا کوئ.
خو بیا تاسو تپوس کوئ چې، مونږ تا نه څنګه غلا کوُو؟ خو زۀ دا وایم چې، تاسو په
لسمه حِصه او نذرانو کښې زما نه غلا کوئ. ۹ په تاسو او ستاسو په ټول قوم لعنت
دے، ځکه چې تاسو ما نه غلا کړې ده. ۱۰ خپله ټوله لسمه حِصه زما ګودام ته راوړئ،
چې زما په کور کښې غله دانه وی. په خپل دې کار سره ما وآزمایئ،" مالِک خُدائ ربُ
الافواج فرمائی، "نو تاسو به ګورئ چې زۀ درته د آسمان نه د باران دروازې خلاصې
کړم او په تاسو به دومره ډېر نعمتونه راوروم چې بیا به تاسو سره د دې دپاره د کېښودو
ځائ نۀ وی. ۱۱ زۀ به ستاسو فصلونه د ویا او مُولخانو د تباه کولو نه وساتم، او
ستاسو په پټو کښې به د انګورو بوټی، انګور د پخېدلو نه وړاندې نۀ غورزوی،" مالِک
خُدائ ربُ الافواج فرمائی. ۱۲ "بیا به ټول قومونه تاسو ته بختور وائی، ځکه چې تاسو
به یو ښاد او آباد مُلک یئ،" مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی.

## د پاک خُدائ د رحم وعده

۱۳ مالِک خُدائ فرمائی چې، "تاسو زما په حقله سپکې سپورې خبرې وکړې،" "خو
اوس تاسو تپوس کوئ چې، مونږ ستا خلاف څۀ وئیلی دی؟ ۱۴ تاسو ووئیل چې، د
خُدائ پاک خِدمت کول بےفائدې دی. مونږ د هغۀ د حکمونو په منلو او د مالِک خُدائ
ربُ الافواج په حضور کښې په خپلو ګناهونو په ماتم کولو څۀ حاصل کړل؟ نه، هیڅ نه.
۱۵ نو اوس مونږ مغروره خلقو ته بختور وایو. یقیناً چې بدعمله خلق ترقی کوی، او تر
دې چې هغوئ ځوک چې د خُدائ پاک مقابله کوی سزا نۀ ګوری." ۱۶ د دې نه
وروستو، بیا کوم کسان چې د مالِک خُدائ نه یرېدل یو بل سره یې خبرې وکړې، او
مالِک خُدائ ورته غوږ شو او هغه یې واورېدلې. د هغۀ په حضور کښې یو یادګاری
طومار لیکلے شوے وو د هغوئ د نومونو په حقله څوک چې د مالِک خُدائ نه یرېدل
او د هغۀ د نوم عزت یې کولو. ۱۷ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی، "هغوئ به زما وی.
په هغه ورځ کله چې زۀ هغوئ خپل خاص ملکیت جوړوم، زۀ به هغوئ سره همدردی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړم، لکه څنګه چې يو کس د خپل هغه زوئ سره همدردى کوى څوک چې د هغهٔ
خِدمت کوى. ۱۸ او بيا به تاسو د صادقانو او بدعملو په اَنجام کښې فرق وګورئ، او
هم به تاسو د هغوئ اَنجام کښې فرق وګورئ څوک چې د خُدائ پاک خِدمت کوى او
څوک يې چې نۀ کوى.“

## د مالِک خُدائ د قيامت ورځ

۴ ۱ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائى، ”يقيناً چې هغه ورځ راروانه ده، او هغه به لکه
د بټۍ په شان بليږى. په هغه ورځ به ټول مغروره او بدعمله خلق لکه د بوسو په شان
وسوزى. د هغوئ جرړې او ټولې څانګې به وسوزى. ۲ خو ستاسو دپاره څوک چې
زما د نوم عزت کوى، صداقت او شفا به لکه د نمر په تاسو وځليږى. او تاسو به بهر لاړ
شئ او د هغه سخو په شان به ټوپونه وهئ چې د غوجل نه آزاد شوى وى. ۳ په هغه
ورځ کله چې زۀ دا کار وکړم نو تاسو به بدعمله لکه د ايرو په شان د پښو لاندې کړئ،“
مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائى. ۴ ”زما د خِدمت کوونکى موسىٰ شريعت او هغه
احکام، او فرمانونه چې ما هغهٔ ته په سينا غر باندې د ټولو بنى اِسرائيلو دپاره ورکړى وُو
ياد ساتئ. ۵ ګورئ، زۀ به تاسو ته الياس پېغمبر د مالِک خُدائ د قيامت د هغه لوئې
او هيبتناکې ورځې د راتلو نه مخکښې درولېږم. ۶ هغه به د پلارانو زړونه خپلو بچو ته
مائل کړى، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائى، او د بچو زړونه به خپلو پلارانو طرف ته
مائل کړى، هسې نه چې زۀ راشم او ستاسو په مُلک د ورانولو فېصله نازله کړم.“

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
© pashtobibles.org يوسفزى ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.